## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**17میزان_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

د آبله میمون ویروس د مخنیوي او پېژندنې په اړه ورکشاپ جوړ شو ---------------------------------------------1
نشست مشترک وزارت امور مهاجرین با نمایند های ادارات همکار بین المللی برگزار شد-----------------------------2
د هېواد په پولو او فرضي کرښو کې د تلونکو او راتلونکو افغانانو د شمېر د خپراوي په اړه ګډه ناسته وشوه. --------3
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت اونیزه اداري ناسته وشوه -------------------------------------------------4
۱۰ خانواده، در ولایت کندز خیمه دریافت نمودند -------------------------------------------------------------4
پکتیکا کې تر سلو زیاتو کورنیو ته نغدي مرسته ووېشل شوهبیش از ۱۰۰ خانواده در ولایت پکتیکا کمک نقدی دریافت نمودند 5
غور کې ۲۵ تنو ته د شپېدو وزې ورکړل شوې -------------------------------------------------------------------6
انګلیس کانال کې د یوه دوه کلن ماشوم په ګډون څلور کډوال مړه شوي -------------------------------------------7
آلمان: کنترول در مرزهای زمینی نتایج متفاوتی داشته است--------------------------------------------------------9
مرگ چهار مهاجر در کانال مانش؛ بیش از ۹۰۰ نفر در یک روز به بریتانیا رسیدند -----------------------------10

# متن کامل اخبار

## د آبله میمون ویروس د مخنیوي او پېژندنې په اړه ورکشاپ جوړ شو

د وزارت ویب سایت



**د عامې روغتیا وزارت په همکارۍ د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت کارکوونکو ته د آبله میمون ویروس د مخنیوي او پېژندنې په اړه ورکشاپ جوړ شو.**

**د پروګرام په پیل کې د مهاجرینو چارو وزارت مالي مرستیال شیخ کلیم الرحمن فاني خبرې وکړې او د روغتیا په اړه یې د اسلام مبارک دین لارښوونو ته په اشارې سره وویل: روغتیا ستر نعمت دی، بې له روغتیا نه دین شته او نه دنیا که روغتیا نه وي، خپلې دیني فریضې نه شو پوره کولای، روغتیا ته پاملرنه په دنیا او آخرت کې مهم نقش لري.**

**هغه زیاته کړه: دین د فقهي په علومو او بدن په طبي علومو پیاوړي کیږي او موږ ته لازمه ده چې د خپلې روغتیا په اړه تدبیرونه ونیسو.**

**د مهاجرینو چارو وزارت د بشري سرچینو رییس مولوي سید مطیع الله خلوتي هم د نن ورځې د پروګرام په اړه د اسلام د سپیڅلي دین او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لارښوونو په اړه خبرې وکړې، وقایوي تدبیرونه او روغتیا ساتنه یې په ژوند او اسلام کې مهم اصل وباله.**

**هغه یادونه وکړه چې د روغتیایي اصولو او قوانینو پلي کېدا له مهمو موضوعګانو څخه ده، چې د اسلام دین ډېر ټینګار پرې کوي او موږ مسلمانان د دې لارښوونو تعقیبولو ته هڅوي.**

وریسې د عامې روغتیا وزارت استازي د یو پریزنتیشن په وړاندې کولو سره ګډونوالو ته د مونکي پوکس ویروس په اړه ګټور او ارزښتناک معلومات ورکړل.
پروګرام د مهاجرینو چارو وزارت د بشري سرچینو ریيس ښاغلي خلوتي په دعا پای ته ورسید.

## نشست مشترک وزارت امور مهاجرین با نماینده های ادارات همکار بین المللی برگزار شد

ویب سایت وزارت



نشست مشترک وزارت امور مهاجرین و عودت کننده‌گان مبنی بر انتقال بیجاشده ها به محلات اصلی شان با نماینده های ادارات همکار بین المللی برگزار شد .

در این نشست نماینده های کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان، سازمان بین المللی مهاجرت و اداره هماهنگ کننده کمک های بشری سازمان ملل متحد حضور داشتند.

مولوی سردارشیرزاد رئیس رسیده گی به وضعیت بیجاشده گان داخلی از سفرش به ولایت کندز و استماع مشکلات خانواده های بیجاشده که از کابل به آن ولایت انتقال خواهند یافت و شریک نمودن آن با مقامات محلی آن ولایت و موسسات همکار به شاملین نشست معلومات داد.

شیرزاد خواهان ایجاد یک تیم مشترک جهت مشخص نمودن اعضای خانواده های بیجاشده و محلات آنان در کندز شده و افزود: این پروسه به زودی آغاز خواهد شد و خانواده های بیجاشده که انتقال خواهند شد از مساعدت های همچو نقدی، خوراکی و غیر خوراکی نیز مستفید خواهند شد.

آقای ونست مسوول هماهنگی کمپ ها گفت: موضوع سفر به ولایت کندز را با مقامات کمیشنری در جریان گذاشتیم با وزارت امور مهاجرین در هماهنگی با موسسات همکار برعملکرد مشترک کار می‌کنیم تا در انتقال بیجاشده ها به محلات اصلی شان به یک هدف مثبت برسیم.

ونست افزود: پروسه انتقال بیجاشده ها به محلات اصلی شان اغاز تا مردم و جهانیان از آن آگاه شده که باعث جلب کمک ها ی بیشتر به بیجاشده ها داخلی گردد و تلاش مینمایم تا با انتقال آنان زمینه کاری نیز به آنها فراهم گردد.

## د هېواد په پولو او فرضي کرښو کې د تلونکو او راتلونکو افغانانو د شمېر د خپراوي په اړه ګډه ناسته وشوه .

د وزارت ویب سایت



د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت د دفتر رييس قاري محمد اجمل وياړ په مشرۍ د مهاجرت نړيوال سازمان له لوري د هېواد په پولو او فرضي کرښو کې د تلونکو او راتلونکو افغانانو د خپاره شوي شمېر په اړه ګډه ناسته وشوه.

په دې ناسته کې د وزارت ځينو مرکزي رييسانو، د رياست الوزرا د اقتصادي معاونيت استازو، د استخباراتو عمومي رياست، د کورنيو چارو وزارت او د احصايي ملي ادارې استازو ګډون کړی و.

د وزارت د پلان او پاليسۍ رييس مولوي محمودالحق احدي د ناستې ګډونوالو ته د مهاجرت نړيوال سازمان د فعاليتونو په اړه هر اړخيز معلومات وړاندې کړل.

د ناستې ګډونوالو د دغې موضوع په اړه هر اړخيزې خبرې وکړې او زياته يې کړه: د هېواد په پولو او فرضي کرښو کې د افغان مهاجرينو د تګ او راتګ د شمېر خپرول بايد د اسلامي امارت له اصولو او قوانينو سره برابر وي .

دغه راز تشکيل او ميکانيزم دې ترتيب شي، ستونزې دې تشخيص شي او موضوع دې د اسلامي امارت له مشرتابه سره شريکه شي او اړوندې دولتي ادارې دې د مهاجرينو چارو وزارت سره ګډه همکاري وکړي.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

او د لا روښانتیا لپاره دې دا موضوع په راتلونکې ناسته کې د مهاجرت نړیوال سازمان له استازي سره هم شریکه شي.

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت اونیزه اداري ناسته وشوه

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت اونیزه اداري ناسته د وزارت د مالي او اداري مرستیال شیخ کلیم الرحمان فاني په مشرۍ او د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمان راشد په شتون کې وشوه.
په دې ناسته کې له اجنډا سره سم د تېرو پرېکړو له تعقیب وروسته په ایران کې د مهاجرینو پر وضعیت، د راستنېدنې پروسې، غزني کې د البیروني ښارګوټي پر ستونزو، کونړ ولایت کې د بېځایه شویو کورنیو، له کابل څخه د (۵۰۰۰) بېځایه شویو کورنیو انتقال او د ځینو نورو مهمو اداري موضوعاتو په اړه بحث او خبرې وشوې، چې د ګډونوالو د نظرونو او مشورو له شریکولو وروسته لازمې پریکړې هم وشوې.

## ۱۰ خانواده، در ولایت کندز خیمه دریافت نمودند

ویب سایت وزارت



**برای ۱۰ خانواده در ولایت کندز، خمیه به تاریخ ۱۵ میزان توزیع گردید.**

**خانواده های متذکره شامل برگشت کننده گان و بیجاشده گان بوده که از جانب ریاست امور مهاجرین آن ولایت شناسایی که پس از آن برای هریک از خانواده های مذکور یک باب خیمه کمک کشور چین بود که از جانب ریاست مهاجرین برای شان توزیع شد.**

## پکتیکا کې تر سلو زیاتو کورنیو ته نغدي مرسته ووېشل شوهبیش از ۱۰۰ خانواده در ولایت پکتیکا کمک نقدی دریافت نمودند

د وزارت ویب سایت




**برای ۱۲۹ خانواده وزیرستانی، برگشت کننده و نیازمند در ولایت پکتیکا مساعدت نقدی بتاریخ ۱۵ میزان توزیع شد.**

**کمک یادشده در دو بخش مبلغ ۴۰ هزار و ۵۰۰ افغانی و ۱۲ هزار افغانی جهت تقویت تجارت های کوچک از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان بود که هرخانواده آن را پس از شناسایی توسط ریاست مهاجرین در ولسوالی برمل و مرکز آن ولایت دریافت نمودند.**

## غور کې ۲۵ تنو ته د شپږو وزې ورکړل شوې

د وزارت ویب سایت



په غور ولایت کې د تلې پر پنځلسمه ۲۵ بې ځایه شویو او راستنو شویو ته د شېدو وزې ووېشل شوې.

دغو کسانو وړاندې د رازي موسسې له لوري د مالدارۍ په برخه کې شپږ میاشتنې زده کړې کړې وې او د دغې  موسسې له خوا د مهاجرینو چارو ریاست په څارنه هر یو کس ته دوه وزې او اوه ډوله نور توکي ورکړل شول.

## انګلیس کانال کې د یوه دوه کلن ماشوم په ګډون څلور کډوال مړه شوي

مهاجرنیوز



د فرانسې او برېټانیا ترمنځ اوبو کې د تېرې جمعې په شپه د یوه دوه کلن ماشوم او یوې مېرمنې په ګډون څلور کډوال مړه شوي دي. ویل کېږي چې دغه کډوال «تر پښو لاندې» شوي دي .په روان کال کې ۵۱ کډوالو برېټانیا ته د اوښتو د هڅو پر مهال خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

د انګلیس کانال په اوبو کې نوې غمیزه. د فرانسې او برېټانیا ترمنځ اوبو کې د تېرې جمعې په شپه څلورو کډوالو خپل ژوند له لاسه ورکړی. دغه مهاجر په دوو جلا کښتیو کې سپاره ول .

لومړۍ کښتۍ چې ۹۰ سپرلي یې درلودل د بولونی سور مېر په اوبو کې خرابه شوه. د پولیسو د قومندانۍ په خبره، په دغه کښتۍ کې یو دوه کلن ماشوم هم سپور و چې بې هوښه وموندل شو او د ژغورونکو د هڅو سره سره یې ساه ورکړه

د بولونی سور مېر څارنوال ګیربک لو برا ویلي دي چې د لومړنیو معلوماتو له مخې دغه ماشوم «تر پښو لاندې» شوی دی. بل پلو د پولیسو قومندان ویلي چې له پېښې څخه ۱۴ تنه نور ژغورل شوي دي چې پکې یو ۱۷ کلن مهاجر هم و. دغه کس چې پښه یې سوځېدلې وه روغتون ته وړل شوی دی. د کښتۍ نورو سپرلیو د برېټانیا پر لور خپل سفر ته ادامه ورکړه .

دویمه کښتۍ چې له کډوالو ډکه وه د کالې له سواحلو څخه حرکت کړی و. د دغې کښتۍ «ماشین څو ځله له کاره ولوېد چې له امله یې کډوال وډارېدل او د وارخطایۍ له امله اوبو ته وغورځېدل». دغه مهاجر له اوبو څخه وژغورل شول، خو یوه ۳۰ کلنه ښځه او دوه نارینه د کښتۍ تر شا چې ۴۰ سانتي متره اوبه پکې راټولې شوې وې بې هوښه وموندل شول. ګومان کېږي چې دغه کډوال «د تېل ماتېل پر مهال تر پښو لاندې شوي، خپه او ډوب شوي دي«.

د بولونی سور مېر د څارنوال په وینا، دغو قربانیانو کې یوه ویتنامۍ او دوه «افریقایان» شامل دي. په لومړۍ کښتۍ کې مړ شوی ماشوم بیا له یوې سومالیايۍ مهاجرې څخه په جرمني کې زېږېدلی و .

یوه ورځ کې نږدې ۱۰۰۰ تنه برېټانیا ته رسېدلي

په ورته مهال د فرانسې د کورنیو چارو نوي وزیر برونو روتایو پر خپله ایکس پاڼه دا یوه «وحشتناکه تراژیدي» بللې او پړه یې پر قاچاقبرانو اچولې ده .هغه ویلي یې دي چې حکومت به «د هغو مافیایي ډلو سره مبارزه ګړندۍ کړي چې د مړینې سفرونو په تنظیم کې لاس لري

بل پلو بیا یوتوپیا ۵۶ سازمان لیکلي دي چې د خلکو «د ژوند د ژغورلو لپاره مسافروړونکو کښتیو ته اړتیا شته». دغه سازمان له کلونو راهیسې ټینګار کوي چې برېټانیا ته د تګ لپاره باید خوندي او قانوني لارې برابرې شي .

دا پېښه په داسې حال کې رامنځته کېږي چې څو اونۍ مخکې انګلیس کانال کې د کډوالو د یوې کښتۍ د ډوبېدو له امله د ۱۰ ښځو په ګډون ۱۲ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړ. په ۲۰۲۴ کې ۵۱ کډوالو برېټانیا ته د اوښتو د هڅو پر مهال خپل ژوند له لاسه ورکړی دی، په ۲۰۲۳ کې بیا یاد کانال کې ۱۲ تنو خپل ژوند بایللی و .

د روان کال له پیل راهیسې ۲۶۶۱۲ کډوال د انګلیس له لارې برېټانوي سواحلو ته په اوښتو بریالي شوي دي. د برېټانیا د کورنیو چارو وزارت د رسمي شمېرو له مخې، یوازې د تېرې شنبې په ورځ ۹۷۳ کډوال وتوانېدل چې د سمندر له لارې ځانونه دوور بندر ته ورسوي. دغه کډوال په ۱۷ کښتیو کې سپاره ول .

بل لور ته د فرانسې سمندري قومندانۍ ویلي دي چې د شنبې په ورځ یې ۲۳۷ مهاجر په سمندر کې ژغورلي دي. د پولیسو قومندانۍ ویلي چې له پنجشنبې شپې راهیسې برېټانیا ته د کډوالو د اوښتو د ۳۱ هڅو مخه نیول شوې ده.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## آلمان: کنترول در مرزهای زمینی نتایج متفاوتی داشته است

مهاجرنیوز




**پولیس فدرال آلمان یافته های جدیدی را راجع به عبور غیرقانونی از مرزها نشر کرده است. براین اساس کنترول در مرزهای مختلف، نتایج متفاوتی را در پی داشته است .**

**پس از این که کنترول در همه مرزهای زمینی آلمان در ماه گذشته به جریان افتاد، نتایج آن به صورت دقیق و از نزدیک نظارت می شود، چرا که براساس گزارش های نخستین، این اقدامات آنگونه که امید می رفت، کارآمد نبوده اند.**

**در حالی که در گذشته، مرزهای شرقی و جنوبی آلمان در مرکز توجه قرار داشتند، حالا از رهگیری مهاجران در مرزهای غربی آلمان گزارش می شود .**

**براساس بیانیه پولیس فدرال آلمان که توسط خبرگزاری آلمان «دی پی ای» نشر شد، از زمان آغاز کنترول های مرزی در همه ۹ مرز زمینی، مجموعا ۲ هزار و ۴۴۸ مورد ورود غیرمجاز ثبت شد که فقط ۸۳۸ مورد از آن در مرزهای آلمان با فرانسه، بلجیم، لوگزامبورگ و هالند بوده است .**

**به گزارش مقام های رسمی در گذرگاه های مرزی غرب کشور از ورود ۵۳۹ تن جلوگیری شده است. آن ها جزئیات بیشتری درباره مهاجران دیگر ارائه نکردند. براساس گزارش ها بیشتر این موارد در مرز با فرانسه رخ داده است.**

**۱۸ مورد دیگر ورود غیرمجاز بین ۱۶ سپتمبر و ۲ اکتوبر در امتداد مرز آلمان با دنمارک ثبت شده است. در ۱۴ مورد از آن مهاجران به دنمارک پس فرستاده شدند .**

**مقام های مسئول در ادامه از رد ورود ۲۵ تن در مرزهای غربی آلمان خبر دادند. این افراد از ورود مجدد به آلمان منع شده بودند. در حالی که در مرز شمالی آلمان با دنمارک، شمار این گروه از مهاجران به سه تن می رسید .**

**افسران پولیس فدرال نیز گفتند که در دو هفته گذشته مجموعا ۳۷۸ دستور انجام نشده بازداشت در همه ۹ مرز زمینی به اجرا درآمده است و این کار فقط به خاطر از سرگیری کنترول های مرزی امکان پذیر بوده است .**

**کنترول های مرزی در همه جهات**

**کنترول های مرزی از تاریخ ۱۶ سپتمبر در تلاش برای کاهش ورود غیرقانونی به آلمان، در همه مرزهای زمینی از سر گرفته شده است .**

**پیش از آن مرزهای آلمان با فرانسه در چارچوب بازی های المپیک کنترول می شد و در مرزهای مشترک با سوییس، اتریش، پولند و چک نیز کنترول های مرزی مدتی بود که آغاز شده بود چرا که براساس معلومات کنونی، بیشتر موارد ورود غیرمجاز در این مسیرها رخ می داد. حالا مرزهای زمینی با دنمارک، بلجیم، هالند و لوگزامبورگ نیز کنترول می شوند .**

**براساس قانون، کنترول در مرزهای آلمان فقط می تواند در شرایط اضطراری از سر گرفته شود. چرا که این کشور عضو منطقه شینگن است. معاهده شینگن که یکی از مهمترین دستاوردها در اروپا می باشد، ائتلاف کشورهایی است که در مرزهای درونی شان بر سر مسافرت آزادانه بدون کنترول پاسپورت و تسهیل ترانسپورت اجناس به توافق رسیده‌اند .**

**انتظار می رود که این اقدامات دست کم تا پایان سال روان ادامه داشته باشند و بعد از آن نیز امکان تمدید آن وجود دارد .**

**بسیاری از همسایگان آلمان و همچنین اعضای دیگر حوزه شینگن از تصمیم های یک طرفه این کشور کشور دال بر از سر گیری کنترول مرزی انتقاد کردند .**

***این مقاله با استفاده از معلومات «دی پی ای» نوشته شده است .***

## مرگ چهار مهاجر در کانال مانش؛ بیش از ۹۰۰ نفر در یک روز به بریتانیا رسیدند

مهاجرنیوز



در دو رویداد مرگبار در کانال مانش، روز شنبه ۵ اکتوبر چهار مهاجر از جمله یک کودک در کانال مانش جان باختند. این مهاجران همراه با صدها تن دیگر می‌خواستند به بریتانیا بروند. از آغاز سال شمار قربانیان در کانال مانش به ۵۱ نفر رسید .همزمان، روز شنبه بیش از ۹۰۰ مهاجر توانستند در چندین قایق خود را به بریتانیا برسانند.

به گفته فرمانداری پادوکاله، صبح روز شنبه یک قایق حامل حدود ۹۰ مهاجر در آب‌های بولوین سور مر در پورتل، دچار مشکل تخنیکی شد. امدادگران بعد از این که یک مهاجر وضعیت قایق را به آنها اطلاع داد، به کمک مهاجران شتافتند و یک کودک دو ساله را بیهوش در قایق پیدا کردند.

ژاک بیان، فرماندار پادوکاله به رسانه‌ها گفت که باوجود تلاش‌های امدادگران، کودک جان داد. به گفته گیرک لوبرا، دادستان بولوین سورمر، بر اساس تحقیقات ابتدایی، کودک در سراسیمگی عمومی مهاجران »زیرپا» شده است.

امدادگران با این حال توانستند ۱۴ مهاجر از جمله یک نوجوان ۱۷ ساله را نجات بدهند .سایر مهاجران قایق پیشنهاد کمک امدادگران را نپذیرفتند و به سفر خود به سوی بریتانیا ادامه دادند

در یک رویداد مرگبار دیگر، دو مرد و یک زن مهاجر در یک قایق در آب‌های منطقه کالیزی بیهوش پیدا شدند اما تلاش‌ها برای نجات آن‌ها بی نتیجه ماند. قایق ۸۳ مهاجر را حمل می‌کرد و و بعد از این که چندین بار دچار مشکل موتور شد مهاجران سراسیمه شدند و تعدادی از آن‌ها در آب افتادند .

به گفته فرماندار کاله، سه قربانی «ظاهراً نخست زیرپا شده و از خفگی مرده‌اند و سپس در داخل قایق که حدود ۴۰ سانتی متر پر از آب بود، غرق شده‌اند«.

از این سه نفر، دو مرد افریقایی و زن ویتنامی بودند. به گفته دادستان کودک جان داده در قایق دیگر از یک مادر سومالیایی در آلمان متولد شده بود .

**از آغاز سال ۵۱ مهاجر در کانال مانش جان داده‌اند**

فرماندار پادوکاله می‌گوید که با مرگ چهار مهاجر در روز شنبه و پیدا شدن یک جسد دیگر چند روز پیشتر، رقم افرادی که در از آغاز سال در کنال مانش جان داده‌اند به ۵۱ تن رسیده است.

در یکی از مرگبار ترین رویداد امسال در کانال مانش، در ۳ سپتمبر، دستکم ۱۲ مهاجر در تلاش برای رفتن به بریتانیا جان دادند. در ۱۴ سپتمبر نیز هشت مهاجر در سواحل مانش در فرانسه جان دادند.

به گفته مقامات، در مقایسه با گذشته، قایق‌های مورد استفاده مهاجران حال بیش از حد «اضافه بار» هستند و کیفیت بسیار بد و موتور نامناسب دارند.



به گفته مقامات فرانسوی قایق‌های مورد استفاده مهاجران در کانال مانش بیش از حد «اضافه بار» هستند و کیفیت بسیار بد و موتور نامناسب دارند. عکس آرشیف :رویترز

مقامات گفته‌اند که هوای مساعد چند روز گذشته باعث شده تلاش‌ها برای عبور از کانال مانش افزایش یابد. ژاک بیان گفت از روز پنجشنبه تا شنبه از ۳۱ مورد تلاش برای رفتن به بریتانیا جلوگیری شده و بیش از ۲۵۰ مهاجر از آب نجات داده شده‌اند.

**این درحالیست که به گفته مقامات بریتانیایی، تنها در روز شنبه ۹۳۷ مهاجر با چندین قایق وارد سواحل این کشور شدند. مطابق آمار منتشر شده در ۲۳ سپتمبر از آغاز تا این تاریخ، سال بیش از ۲۵ هزار مهاجر وارد بریتانیا شده‌اند.**

**مقامات فرانسوی گفته‌اند که بین جون ۲۰۲۳ و جون امسال از جمله افرادی که از طریق کامانش به بریتانیا رفته‌اند ۱۸ درصد افغان‌ها، ۱۳ درصد ایرانی‌ها و ۱۰ درصد نیز ویتنامی‌ها بوده‌اند.**

خبرنامه